# د تنباکو چلم اصلاحات

د سوداګرۍ لپاره معلوماتي پاڼه

دا معلوماتي پاڼه د سوداګرۍ له پاره د ویکتوریا د تنباکود کنټرول د قانون لنډیزه ده، چې د تنباکو د خرڅلاو، اعلان اود تنباکود چلم د کارولو په اړه ترتیب شوې ده.

## اصلاحات

(د تنباکوقانون) د تنباکود۱۹۸۷ کال د قانون په اساس، د تنباکود چلم خرڅلاو، اعلان او کارول چې په **هر اندازه** تنباکو ولري ، له هغوسره به د 2017 **کال دآګست دمیاشتې د** 1 نیټې څخه وروسته دنورو تنباکو محصولاتولکه سګرټ او سیګار په شان یوشانتې چلن وشي.

ددې بدلونونو  معنا داده چې د تنباکو چلم نه شي کیدای :

- په کومو ځایونو کې چې د سګرتوڅښول  منع شوي دي استعمال شي.
- په کوم کس  چې سِن یې له 18 کلونو څخه کم وي خرڅ شي.
- چې د خرڅلاوپه ځای کې وښودل او یا اعلان شي.
- له لنډ مهال  ځای، لکه  موټر څخه خرڅ شي.
- د چلم یا تنباکود شیرې د محصولاتو د خرڅلاو د پرمختیا له پاره خلکو ته هسې او یا په وړیا توګه ورکړي.

همدارنګه دا بدلونونه دفدرالي حکومت د تنباکود ساده قطیانو د قانون سره په یوه لیکه کې راځي، کوم چې د تنباکوچلمي محصولات باید په ساده قطیو کې ځای په ځای شي. په کومو چې د روغتیایي خبرتیا یا ګواښ عکس  رسم شوی وي
د میوې یا نباتي بوټو څخه جوړشوي محصولات چې تنباکو ونه لري تردې قوانینولاندې نه راځي.

## دقوانوینو سره سم چلن

د تنباکود چِلم څښول په هغو ټولو  ځایونو کې منع دي په کوموکې چې دسګرتو څښول د تنباکو د قانون په اساس بند دي .

په دې کې له کار کې ترلي ځایونه لکه د چاې اوقهوې د څښلو ځایونه، دناستې ځایونه او داجازې ورکړل شوي ځایونه شامل دي.

د 2017 کال دآګست له لومړۍ نیټې څخه به  دسګرت څښولو بندیزونه  پراخ شي :

* د ډوډۍ خوړلو بهرني ځایونه ته.

* بهرني څښل ځایونه، که چیرې هره برخه د ډوډۍ خوړلو دبهرني ځایونو په 4 مترۍ کې وي، یا دا چې په یوه دیوال سره چې ۲،۱ مترلوړوالی ولري بیل شوئ وي.

د نوي قانون په نظرکې نیولوسره، سوداګریزځایونه لکه د چِلم قهوې اود چاې څښلو  ناستې ځایونه باید په خپلوکړنو اوعملیاتو کې بدلونونه راولي.

دا بدلونونه د ټولنې د روغتیا اوهوساینې د ښه والي او ساتنې له پاره جوړشوي دي. دوی د کارپه ځایونوکې د تنباکود څښولو بندیز د کارکوونکو او مراجعینو د ساتنې اومرستې له پاره پراخه کړئ دئ.

اغیزمن شوي سوداګریزځایونه کولای شي بهرنۍ ساحه ، په کوم ځای کې چې دسګرت څښول منع نه وي اود دوی له کارځای سره جوخت وي په نظرکې ونیسي. سوداګران باید د اجازې له پاره له خپلو سیمه ایزوښاروالیوسره خبرې وکړي چې له پیاده رو څخه د تنباکو د چِلم د څښولوله پاره ګټه واخلي .

### د تنباکود چلم خرڅول

اداره کوونکي او کارکوونکي مخکې له دې  چې د چلم تنباکو په یوه کس خرڅ کړي باید ډاډمن شي چې هغه د  18 کلونو وي. دوی ته لازمه ده چې په هرډول حالاتوکې د منلو وړ پیژندپاڼې غوښتنه وکړي.

- اداره کوونکي د ډاډګیرنې له پاره مسوول دي چې کارکوونکي یې د تنباکو  د چلم خرڅول له قانون سره سم ترسره کړي. اداره کوونکي کولای شي دجریمې څخه د خلاصون له پاره کارکوونکي په هرو شپږو میاشتو کې وروزي اوله دوی څخه لیکلی تایید ترلاسه کړي چې دوی روزنه ترلاسه کړې ده. روزنه باید دا لاندې مسایل پوښ کړي:
- کارکوونکي په هغو کسانوچې عمرونه یې تر  18  کلونوکم وي  باید د تنباکوچلم  خرڅ نه کړي .
- کارکوونکي مخکې له دې  چې د چلم تنباکو په یوه کس خرڅ کړي باید د پېژندپاڼې غوښتنه وکړي اوهغه وګوري. کیدای شي عمریې له اټلسو کم وي.

VICTORIA State Government | Health and Human Services

- که چېرې کارکوونکي په یوه کس چې عمر یې د 18 کلونو څخه لږ وي د تنباکوچلم خرڅ کړي، دوی یوجرم کوي او بنايي جريمه شي.

## دچلم ښوونه او اعلان

سوداګریزځایونه به دې ته اړتیا ولري چې ځانونه ډاډمن کړي چې د تنباکوچلم د خرڅلاوله پاره شته اوپه هغه پورې هرډول ترلی اعلان نه باید، د هټی له هرځای څخه که بهر یا دننه وي خلکو ته له ورایه معلوم شي.

د تنباکوچلم باید دننه په الماری کې اویا د غرفي ترشا د نورو تنباکویي محصولاتوپه شان کېښودل شي.

### دبدلونو لپاره دلایل

د 2006 کال راهیسي، په ویکتوریا کې د تنباکو ښښول دننه له کارسره په تړلي ځایونو کې بند کړای شوي دي. دا بندیز د تنباکودچلم له پاره چېړ ته چې تنباکو یې **اصلي** ماده ده د تطبیق وړدئ.

اوسني بدلونونه په قوانینوکې د تنباکود چلم په برخه کې پراخه شوي، چې د ټولني روغتیا وساتي اوپه تنباکوپورې تړلي ناروغۍ کمي کړي.

دنويو قوانیو موخه داده چې:

* کارکونکي اومشتریان د دوهم لاس ښښول شوي لوګي له زیا نمنواغیزو څخه، د کارپه تړلیو ځایونو کې وساتي. لکه د چلم ښښلو کافي او ناستي ځایونه.

* دهغو کسانو د تنباکود چلم داخیستواوښښولوڅخه مخنیوی چې عمرونه یې له اتلسوکلونولږوي.

*د تنباکودچلم د ښښولو مخنیوی، په تیره بیا دماشومانو او تنکي ځوانانو، کوم چې کېدای شي دغه ډول ښښولو ته راکش کړل شي.

* له هغوکسانوڅخه ملاتړ، چاچې ښښول پرېښي او یا یې په ورستیووختونوکې د تنباکوله ښښولوڅخه لاس اخیستئ دئ.

* له هغې لاړې سره سازګاري، چې د تنباکو نور محصولات یې اداره اوتنظیم کړي دي.

## روغتیايي زیانونه

قوي بیلګې شته چې د تنباکوچلم ښښول اوله لوګي سره یې مخامخ کېدل زیانمن روغتیايي خطرونه رامنځ ته کوي.

دتنباکوچلم ښښونکي اوهغه کسان چې ددوهم لاس لوګي سره مخامخ کیږي ، له هغوناروغیو څخه په خطرکې دي چې د سګرټ د ښښلو له امله پیداکیږي . لکه د سږي سرطان، د ساه ایستني ناروغي او د حامله داری په وخت کې کم وزنې.

یو عامه غلط فهمي شته چې وایي د تنباکود چلم استعمال د سګرټ له لوګي محفوظ دئ.

داسمه خبره نه ده.

د تنباکوچلم ښښونکي کیدای شي چې د سګرټ ښښونکوپه څېړ په ورته اویالوړه اندازه دکیمیاوي ضررونوسره مخامخ شي.

دنړیوال روغتیایي سازمان په قول، دتنباکو دچلم ښښولوپه مجلس کې کېدای شي چې شامل کسان د 100 سګرټو په اندازه لوګی کش کړي[1]

## سزاګانې

سزاګانې د تنباکو د نورومحصولاتو په څېرلکه سِګرټ او سیګاریوشان دي.

دمثال په توګه : که چېرې تاسود کار په تړلي ځای اویا د ډوډۍ خوړلوپه بهرځای کې چې هلته دسګرت ښښول منع وي د تنباکوچلم ښښولوته په خپلوسوداګریزوځایونوکي اجازه ورکړئ، کېدای شي چې د دوه یونټو په اندازه جریمه چې د ۳۱۷ ډالروسره برابره ده په 2017 - 18 کلونوکي[2].ترلاسه کړي

## زیات معلومات

دزیاتومعلوماتو لپاره:

- د تنباکود معلوماتو ټیلیفوني لین ته په دې شمیره کې 775 136 1300 زنګ ووهئ
- [د تنباکو داصلاحاتو ویب پاڼي](www.health.vic.gov.au/tobaccoreforms) څخه لیدنه وکړئ <www.health.vic.gov.au/tobaccoreforms>.

که غواړئ چې د2017 کال دآګست دمیاشتي داولي نیټي دقانون اصلي متن څخه لیدنه وکړئ، دویکتوریا د حکومت په قانوني ویب پاڼه> legislation website
www.legislation.vic.gov.au کې د *Tobacco Act 1987*
لټون وکړئ.

1. داوبود نلکې دتنباکو دود: روغتیايي اغیزې، د قانون د کنترولونکوله خوا دڅېړنواړتیا اوله سپاربنت سره کړنې، نړیوال روغتیا سازمان ژنیو 2005.

2. د سزا یونټونه هرکال شاخص کیږي. په 2017- 18 کلونوکې یوجزایي یونټ $158.57 دئ.

که غواړۍ دا چاپي خپرونه دلاس رسی شکل
(فورمت)کې تاسوته ورسیږي، د تنباکو دمعلوماتي
ټیلیفون سره په دې شمیره 775 136 1300 کې د
ملي ریلي خِدمت له لارې د 77 36 13 شمیرې ، اویا
لاندې برېښنالیک سره

tobaccopolicy@health.vic.gov.au

اړیکه ونیسئ .

د ویکتوریا حکومت 1 Treasury Place, Melbourne له
خوا قانوني اجازه ورکړشوي او نشرشوه،

© د چاپ اونشرحق دویکتوریا حکومت ، د
Mayمیاشت 2017 کال.

**مسولیت نه منل:** مهرباني وکړئ په یادولرئ ، هرډول
مشوره چې په دې معلوماتي پاڼه کې راغلي، هغه یوازې
عمومي لارښوونه ده . د روغتیا اوبشري خدمتونوڅانګه ،
ددې معلوماتي پاڼې نه دګټې اخیستواو مشورې په صورت کې
دهیڅ ډول تاوان اوزیان مسؤلیت په غاړه نه اخلي د د دې
معلوماتي پاڼي محتویات نشی کولای د څانګړو قانوني
مشورواخیستو ځای ونیسي

ISBN: 978-0-7311-7195-8

په دې ویب سایت کې ستاسودکاروني له پاره:
www.health.vic.gov.au/tobaccoreforms